
مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۷/۱۷

# د عبدالملک بېکسیار نثر

## ساده برېښي، خو آسانه نه دئ

### دريمه او وروستۍبرخه




**د بېکسیار د ادبي نړۍ محور**

د دې کتاب اصلي کمال د موضوعاتو ډېروالی نه دئ، بلکه د هغوی ترمنځ هغه همرغي ده چې بېکسیار رامنځته کړې ده.
یو عادي لیکوال به له دې هر څه څخه د بېلابېلو او بې‌اړیکو لیکنو یوه ګډه وډه ټولګه جوړه کړې وای، خو بېکسیار دا پراخه تنوع په یوه منظم ادبي جهان بدله کړې ده. لوستونکي داسې احساس نه کوي چې له جلا جلا لیکنو سره مخامخ دي، بلکه داسې ورته ښکاري لکه د یوه کور له یوې خونې چې بلې خونې ته ننوځي او د هرې خونې پر دیوالونو د انساني ژوند مختلفي هنري تابلوګانې ځوړندې ویني.
لکه څرنګه چې د کتاب په هره لیکنه کې ژوند وینو، نو غوره به دا وي چې وواېو د دې اثر اصلي موضوع د انسان په اړه ده. او که رښتیا وواېو، کیسه پرته له انسانه بل څه کېدای هم نه سي.
د بېکسیار د لیکنو په دې رنګین بڼ کې، چې د بېلابېلو رنګونو خوشبویه ګلان پکښې غوړېدلي دي، ما هم یو ځانګړی ګل پکښې غوره کړ او غواړم د هغه په ورېمو کې تم سم. د دې ګل نوم هیومنیزم دئ.
هیومنیزم یا انسانپالنه، په خپل تر ټولو ساده او په عین حال کې تر ټولو ژور مفهوم، پر انساني کرامت ایمان دئ. که څه هم د دې فکري بهیر تاریخي ریښې د لرغوني یونان او روم تر تمدنونو رسېږي او وروسته د اروپا د رېنېسانس


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

په دوره کې ئې نوې غوړېدلې بڼه خپله کړه، خو روح ئې تر هر تاريخي پړاو ډېر پخوانی دئ. انساپالنه هغه ورځ پيل سوه چې يوه انسان بل انسان ته د وسيلې، دښمن يا پردي په سترګه ونه کتل، بلکه هغه ئې د ژوند د سفر ګډ ملګری وګاڼه.
انساپالنه موږ ته دا را زده کوي چې تر دې مخکې چې موږ د يوه ملت، يوې ژبې، يوه دين يا يوې مفکورې اړوند واوسو، موږ د خپل ګډ انسانيت له امله د يو بل اړوند يو. له همدې امله له ادبياتو غواړي چې انسان د يوې نظريې، سمبول يا استدلال په توګه ونه ويني، بلکه د يوه ژوندي زړه په توګه ئې محسوس کړي؛ هغه زړه چې هيلې لري، ېرې لري، کمزورۍ لري، تناقضونه لري، غمونه لري، خوښۍ لري، او تر قضاوت ډېر د درک او همدردۍ مستحق دئ.
د ښکسيار په ليکنو کې انساپالنه يوازې د فکر او نظريې تر بريده نه پاته کېږي، بلکه د ورځني ژوند په عادي پېښو، وړو ليدنو او انساني اړيکو کې ځان راښيي. دی له همدې عادي شېبو څخه د انسانيت هغه اړخونه راباسي چې ښايي موږ ئې هره ورځ وينو، خو په بې غورۍ ورڅخه تېرېږو.

## انسانپالنه په عمل کې

د بشردوستۍ موضوع د دې کتاب له لومړي مضمون (۶ مخ) څخه شروع کېږي. په دې کيسه کې له يوې ډنمارکۍ بسچلوونکې سره د ليکوال د ليدنې روايت دئ، همدا ليدنه لوستونکي د ليکوال له انساپالي نړۍ ليد سره اشنا کوي. ښکسيار ليکي چې د هغې د انساني چلند، مينې او خواخوږۍ له امله مسافرو هغې ته د مور، خور او انا مقام ورکړی وو. دا درناوی د وينې د اړيکو زېږنده نه، بلکه د انسانيت د اړيکو محصول دئ.
بس د ټولنې يو کوچنی انځور ښکاري، داسې ځای چې د بېلابېلو مسلکونو، ټولنيزو طبقو او ساحو خلک سره راټولوي. دغه ښځه خلک د هغوی په دندو نه پېژني، بلکه د انسانانو په توګه ورسره چلند کوي. له همدې امله د مستري، دوکاندار، د کورونو د پېر او پلور د استازي او لسګونو نورو مسافرو سره د هغې اړيکه يوازې د ټکټ او سفر اړيکه نه پاته کېږي، بلکه په يوه ژوره انساني پېژندګلوۍ بدلېږي.
د هري کيسې اصلي نړۍ د انسان روح دئ. که له ادبياتو انسان واخلې، يوازې تشې منظرې به درپاته سي. او که له انسانه انسانيت واخلې، نو نور به يوازې يو کالبوت وي چې د مځکې پر سر به ګرځي.
په يوې بلې خاطرې (۴۳۲-۴۳۱ مخونه) کې ليکوال هغه دردناکه صحنه انځوروي چې انسان پکښې د فساد او واک د سوداګرۍ قرباني ګرځي. هغه ليکي چې د پاکستان په لارو کې پوليسو افغان مسافر د عايد د يوې سرچينې په توګه ليدل او په بېلابېلو پلمو ئې ترې پيسې اخيستلې. په همدې لړ کې د يوه ازبک مسافر کيسه راوړي چې د خپلې ناروغې ماشومې لور د درملنې لپاره له خپلې مېرمنې سره روان وو، خو پوليسو د سلو روپيو لپاره ټول موټر درولی وو. هغوی نه د ماشوم ناروغې ته وکتل، نه د کورنۍ بېوسي او نه ئې د هغوی انساني حالت ته پام وکړ، تر هغه وخته ئې موټر بند ساتلی وو تر څو ئې پيسې ځنې وانخيستلې.
د ښکسيار بله ادبي ليکنه (۱۰۶ مخ) د يوه ډنمارکي ښوونکي کيسه بيانوي چې د خپلې ځلوېښت کلنې دندې په موده کې يوه ورځ هم له ښوونځي څخه غيرحاضر سوی نه وو. د هغه د تقاعد په مراسمو کې د ډنمارک د پوهنې وزير هم د هغه د خدمت د درناوي لپاره ګډون کوي. ښکسيار د مستقيم نصيحت پر ځای افغان لوستونکي دې ته رابولي چې ملتونه په شعارونو نه، بلکه په وجدان، ژمنتيا او د هغو انسانانو په درناوي جوړېږي چې خپل ژوند د راتلونکو نسلونو د روزنې او ښېرازۍ لپاره وقفوي. د ښکسيار په انساپاله نړۍ ليد کې د ملت جوړونه د صادقانه خدمت له درناوي څخه پيلېږي.

يو بل ځای (۵۶۱-۵۵۹ مخ) بيا ښکسيار د انساپالنې يو ډېر لطيف اړخ راڅرګندوي. هغه د خپل يوه آشنا د زوی د واده کيسه کوي، چې د مېلمنو د کم ګډون له امله محفل بې روحه او ژر پای ته ورسېد. ښکسيار له ځانه سره فکر کوي چې ښايي دغه سړی دلته ډېر شناخته نه لري. خو ژر مياشتي وروسته، کله چې هماغه سړی وفات کېږي، د هغه جنازې ته له بېلابېلو ښارونو او آن له نورو هېوادونو څخه ګڼ شمېر خلک راټولېږي. ښکسيار په حسرت وايي چې کاشکې همدغه خلک د هغه د زوی د واده په خوښۍ کې هم ورسره شريک سوي وای، ښايي هماغه مينه، حضور او خوښي به د هغه د ژوند عم لږ نور هم اوږد کړی وای.
خواخوږي يوازې د غم په مراسمو کې ګډون نه دئ، بلکې د نورو په خوښيو کې ګډون هم د انساني مينې او ټولنيز مسؤليت يوه مهمه برخه ده. انساپاله ټولنه هغه ده چې د خپلو غړو تر څنګ يوازې د مرګ او ماتم پر مهال نه، بلکه د ژوند، خوښۍ او هيلو په شېبو کې هم ودرېږي ځکه کله ناکله د خوښۍ په مراسمو کې يو صادقانه حضور د غم تر سلګونو تسليو ډېر ارزښت لري.
د هغه خاطرې نه خطبې دي او نه اخلاقي نصيحتونه بلکه هغه هنداري دي چې انسان پکښې يو ځل بيا خپل مدنيت، شفقت، تهذيب او فرهنګي ښکلا ويني، او بيا ځان ته وايي: همدا ځانګړني دي چې موږ د انسان په نوم د يادېدو وړ ګرځوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

د همدي انساني پيوند يو بل ژور انځور (۳۵۰-۳۴۹ مخونه) د يوې کمعمره نجلۍ د جنازې په خاطره کې وينو. د تسليت لپاره راغلي خلک د کورنۍ له غړو سره يو ځای اوښکي تويوي، او د دې نجلۍ غم د هغوی د خپلو تېرو غمونو يادونه هم ور تازه کوي. ليکوال د انسانانو هغه ګډ عاطفي پيوند انځوروي چې د غم او خوښۍ په شېبو کې ټول انسانان سره نښلوي. د هغه په اند، خواخوږي او همدردي د ويني، قوم او جغرافيي پولې نه پېژني، د يوه انسان درد د بل انسان په زړه کې هم درد راويښوي. همدا ګډ احساس او متقابله همدردي د انساپالني له بنسټيزو ارزښتونو څخه دي او د همدې له امله انسانان د يوې ستري انساني کورنۍ غړي ګرځي.

خو بېکسيار د انسانيت د ارزښتونو د موندلو لپاره تل د نورو په کړنو پسې نه ګرځي. د کتاب په ډېرو ليکنو او کيسو کې هغه خپل ځان ځاري او حتی پر خپلو هغو وړو او ظاهراً بې اهميته کړنو هم نيوکه کوي چې د انسانيت له ارزښتونو سره سمون نه خوري. په يو ځای کې حتی په نا پامی پر يوې ونې د لرګي وهل ئې وجدان راويښوي او دې ته ئې اړ باسي چې له ځانه وپوښتي: دا څه کوم؟ آيا دا کړنه د يوه انسان له انساني چلند سره برابره ده؟
زما په اند، د بېکسيار د ليکنو يو لوی درس همدلته پروت دئ. هغه موږ يوازې د ټولني، حکومتونو او نورو انسانانو نقد ته نه رابولي، بلکي لومړی مو دې ته اړ باسي چې د خپل ورځني ژوند وړې وړې کړني تر نظر تېري کړو. موږ چې هره ورځ څه کوو، څومره ئې د انسانيت له ارزښتونو سره برابر دي؟ او څومره د عادت، بې پروايی او بې تفاوتی له مخې د همامغه انسانيت پر خلاف عمل کوو چې دعوه ئې لرو؟ د بېکسيار ليکني په ډېر خاموشه ډول هنداره د لوستونکي مخ ته نيسي او دا پوښتني ورته پرېږدي.
د بېکسيار په يوې خاطرې (۱۴۳ مخ) کې د انساپالني يو بل مهم اړخ د انسان او طبيعت د اړيکو له لاري انځورېږي. هغه د دويمي نړيوالي جګړې له پای وروسته د ډنمارک يادونه کوي، چېرته چې د ښکار محدودول، د وحشي ژويو قانوني ساتنه، له حيواناتو سره مهربان چلند او د طبيعت په نظام کې نه لاسوهنه د انسان او طبيعت ترمنځ د باور او همږغی فضا رامنځته کړې ده. بېکسيار ليکي چې دغه انساني چلند آن تر دې بريده اغېز کړی دئ چې ګيدړه، چې د وحشت نښه بلل کېږي، ورو ورو له انسان سره اشنا کېږي او ښايي يوه ورځ د کورني حيوان په څېر له انسان سره ژوند وکړي.
دا يوازې د حيواناتو د حقونو خبره نه ده، بلکه د يوې ټولني د اخلاقي بلوغ او تمدني شعور هنداره ده. انساپالنه د انسان مينه تر انسانه نه محدودوي، بلکي هغه د ټولو ژونديو موجوداتو او د طبيعت تر ساتني پوري غځوي. بېکسيار بيا دا انځور له خپل وطن افغانستان سره پرتله کوي، چېري چې چې جګړو، وحشت او ويني تويوني نه يوازې د انسان ژوند ځپلی، بلکه د رحم، همزيستی او د ژوند د درناوي ارزښتونه ئې هم کمزوري کړي دي. د هغه په اند، د يوې متمدني او انساپالي ټولني ريښتيني معيار دا نه دئ چې څومره ځواک لري، بلکه دا دئ چې له انسان، حيوان او طبيعت سره څومره په رحم، مسؤليت او درناوي چلند کوي.

### له انساپالني څخه تر تهذيب او تمدنه

د بېکسيار انساپالنه يوازې له انسان سره د ميني تر احساس او د انساني کرامت تر درناوي پوري محدوده نه ده؛ هغه غواړي دا فکر د انسان تر ورځني ژوند، چلند او عادتونو پوري ورسوي څکه انساني ارزښتونه هغه وخت خپل حقيقي مفهوم پيدا کوي چې د انسان په کردار کې راڅرګند سي. همدلته د بېکسيار انساپال فکر له تهذيب سره لاس يو کوي. که انساپالنه د انسان د ارزښت او کرامت فکر دئ، نو تهذيب د همدې فکر عملي او ژوندی بڼه ده. د بېکسيار ډېري کيسي انسان ته همدا بلنه ورکوي چې خپل فکر، احساس او چلند وپالي او تر پرون لا ډېر انسان سي. بېکسيار، بې له شکه، يو مهذب انسان دئ؛ د ښو اخلاقو، نرمو آدابو او روزل سوي شخصيت څښتن. خو دی تهذيبي او تمدني ليکوال هم دئ. کله چې زه بېکسيار ته تهذيبي او تمدني ليکوال وايم، مقصد مې دا دئ چې د هغه په ليکنو کې يو ډول تهذيبي او تمدني پيغام پروت دئ. هغه د تهذيب او تمدن خبري کوي، ارزښتونه ئې راښيي او لوستونکی په ډېره نرمه او هنري ژبه دې ته رابولي چې دا ارزښتونه په خپل ژوند او چلند کې خپل کړي.
په زړه پوري خبره دا ده چې لوستونکی لا د کتاب د متن ژورو ته نه وي ننوتی چې په سرليک او پوښ کې د دې ټولګي د اساسي انديښنو، انساپالني، تهذيب او تمدن، اشاريويني. د کتاب عنوان «شرم له سپي» دئ. دا ټولي ځانګړني بيا وروسته په ۱۸۳ مخ کې د همدې سرليک لاندي په کيسه کې لولو.

### د بېکسيار د ادبي فلسفي نچوړ: « شرم له سپي»

په لومړي نظر همدا سرليک لوستونکی حيرانوي. يوه شېبه پوښتنه او حتی نا ارامي پيدا کوي: انسان به له سپي ولې شرمېږي؟ خو د کتاب دا مضمون، دا حيرانتيا ډېر ژر په ځان پېژندنه بدلوي.
بېکسيار د راوي له قوله کيسه کوي چې په لوېديځ کې ئې يو روزل سوی سپی وليد. سپی د سره څراغ پر وړاندي ودرېد، په پوره حوصله ئې انتظار وکړ او تر هغه وخته ونه خوځېد تر څو څراغ زرغون نه سو. خو دی به له همدي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

ځايه هره ورځ پر سره څراغ تېرېدی. دی چي عقل، وجدان او اخلاقي مسؤليت ورسره مل وو، بيا هم چمتو وو چي همدا قانون له پامه وغورځوي.
په ظاهره دا يوه ډېره عادي پېښه ده، خو سمبوليکه مانا ئې خورا ژوره ده. د دې کيسي اصلي موضوع سپی نه دئ، انسان دئ.
بېکسيار سپی تر انسان لوړ نه ښيي. هغه يوازي دا خاموشه تناقض رابرسېره کوي چي کله ناکله يو حيوان، چي يوازي روزنه ئي لاربښوونه کوي، په مدني انضباط کي له هغه انسانه وړاندي کېږي چي د عقل، شعور او اخلاقي مسؤليت دعوه لري.
همدلته يوه خاموشه اخلاقي ويښتيا راپيلېږي. کله چي راوي ويني چي يوه روزل سوي سپي خپله دنده ترسره کړې ده او دی پخپله پاته راغلی، شرمېږي او له هماغي ورځي له ځان سره ژمنه کوي چي نور به هر ځل د سره څراغ پر وړاندي درېږي.
پېښه کوچنۍ ده، خو د بېکسيار ټوله ادبي فلسفه پخپله غېږه کي نغاړي.
هغه باور لري چي تمدن يوازي په لوړو شعارونو او ښکلو ويناوو نه اندازه کېږي؛ تمدن د انسان د ورځني ژوند په همدغو وړو وړو عادتونو کي ځان ځرګندوي. د سره څراغ درناوی ښايي يوه کوچنۍ خبره ښکاره سي، خو تر شا ئې قانون ته درناوی، نظم ته درناوی او په پايله کي بل انسان ته درناوی پروت دئ. بېکسيار ښه پوهېږي چي اخلاق له لويو قهرمانيو نه پيلېږي بلکه د مسؤليت له همدغو عادي، خو دوامداره کړنو څخه راټوکېږي.
همدا د «شرم له سپي» کيسه په کوچنۍ پيمانه هغه څه راټولوي چي د کتاب په ډېرو نورو ليکنو کي ئې په بېلابېلو بڼو وينو: انساني‌الله د فکر په توګه، تهذيب د چلند په توګه او تمدن د ګډ ژوند د نظم په توګه. خو دلته يوه بله پوښتنه پيدا کېږي: بېکسيار دا اخلاقي او تهذيبي خبرې څنګه کوي چي ليکنه ئې په خطبه او نصيحت نه بدلېږي؟
جواب ئې زما په اند د هغه په هنر کي پروت دئ.

## هنر، طنز او پيغام

د بېکسيار د نثر يوه له خورا د پام وړ ځانګړنو څخه دا ده چي د هغه اخلاقي ليدلوری هېڅکله پر لوستونکي بار کېږي نه. د هغه ليکني د وعظ بڼه نه خپلوي. هغه په هغه حقيقت ښه پوهېږي چي ډېر ليکوالان ترې غافل وي: نېغه مشوره تر غوږه رسېږي، خو هغه مشوره چي د هنر او ښکلا په جامه کي وړاندي سي، نېغ د انسان تر زړه رسېږي.
په دې برخه کي بېکسيار ماته د اردو د نثر دوه ستر ليکوالان را په يادوي: مشتاق احمد يوسفي او احمد شاه پطرس بخاري. دواړو دا نادره وړتيا درلوده چي د ورځني ژوند عادي پېښې په داسې خوږو روايتونو بدلې کړي چي د خندا تر شا ئې تل د انسان او ټولني په اړه ژور فکر پټ وو. موږ که يوسفي يا پطرس ولولو، پر شونډو به مو موسکا وي، خو په ذهن کي به مو د انسان او انسانيت په اړه پوښتني په ګردش کي وي. بېکسيار هم ورته اغېز پرېږدي.
بېکسيار دا هنر هم لري چي موسکا د خپل فکر په خدمت کي ودروي. د پطرس بخاري او مشتاق احمد يوسفي په څېر، دی هم ډېر ځله له خندونکو جملو او خوږ طنز څخه د خپل پيغام د رسولو لپاره کار اخلي. د هغه خندا يوازي د دې لپاره نه وي چي لوستونکی وخندوي؛ تر ډېرو موسکاوو لاندي ئې يوه خبره، يوه نيوکه او يا يو درس پټ وي. دی د خپل فکر دروندوالی په ظرافت نرموي، لوستونکی لومړی موسکوي او بيا ئې، بې له دې چي پوه سي، فکر کولو ته اړ باسي. په دې توګه، طنز د بېکسيار له پيغام څخه د تېښتي لار نه، بلکه د هغه د رسولو يوه اغېزناکه وسيله ګرځي.
ښايي همدا لامل وي چي د بېکسيار انسانپالنه هېڅکله پر لوستونکي نه تحميلېږي. هغه نه د منبر له سره اعلانېږي او نه د شعار په بڼه وړاندي کېږي بلکه د ژوند له طبيعي بهير څخه راټوکېږي. لوستونکي ته هېڅوک نه وايي چي ښه انسان سه، خو کله چي کتاب بند کړي، په خپل زړه کي د ښه انسان کېدو هيله احساسوي.
دا هنري توازن د نړۍ سترو اديبانو له ډېر پخوا پېژندلی وو. د کلاسيکو ډرامو ليکوالانو دا ښه درک کړی وه چي د انسان ذهن د تراژيدۍ دروند بار د اوږدې مودې لپاره نه سي زغملای. ځکه به ئې د ژور درد او غم ترمنځ د طنز او خندا شېبې ځای پر ځای کولې، څو هم د لوستونکي او ليدونکي احساساتي فشار کم کړي او هم د اثر جديت خوندي وساتي. ادبي نقد دې هنري تخنيک ته «کوميک ريليف» وايي.
شکسپير د دې هنر ستر استاد وو.
بېکسيار هم ډېر لږ لوستونکی پرېږدي چي د اخلاقي تأمل دروند بار د اوږدې مودې لپاره پر اوږو يوسي. هر ځل چي روايت لږ جدي بڼه خپلوي، يوه خندوونکې پېښه، يوه ظريفه مشاهده، يوه ناڅاپه لطيفه يا يوه خاموشه طنزيه اشاره د تورو وريځو ترمنځ د لمر د وړانګي په څېر راڅرګنده سي. لوستونکی موسکی سي او دا هېر کړي چي په اصل کي د يوه ژور فکر پر لور روان دئ. خو کله چي ادبي ټوټه پای ته ورسېږي، ناڅاپه احساس کوي چي هماغي موسکا يو اخلاقي حقيقت، بې له شور او ادعا، د هغه تر زړه رسولی دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په پای کې د بېکسیار د قلم د لا ډېرو پنځونو په هیله یم. هیله ده چې د ده قلم همداسې روان، فکر ئې تازه او د ژوند د رنګونو د راټولولو دا سفر ئې دوام ولري. زموږ ادب و داسې لیکوالو او داسې لیکنو ته اړتیا لري چې لوستونکې ئې هم ولولي، هم ئې موسکی کړي او هم ئې فکر کولو ته اړ کړي. بېکسیار ته د روغ صحت، اوږده عمر او لا ډېرو ادبي برياوو دعا کوم. قلم ئې تاند او ادبي سفر ئې بریالی.

**ماخذونه**


استاد آصف بهاند، «شرم له سپي» - د عبدالمالک بېکسیار «چکرنامه»، دعوت مېډیا ۲۴
https://af.dawatmedia24.com/?p=182905،
د لاس رسی نېټه: ۱۶ جولای ۲۰۲۶.

بېکسیار، عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسیک خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل /۲۰۲۵ م کال.

صدیقي، نعمت الله، د «نا ویلو» خبرو لیکوال، تاند،
https://taand.net/?p=257228
د لاسرسي نېټه: ۱۶ جولای ۲۰۲۶.

هډسن، ویلیم هېنري، *An Introduction to the Study of Literature*، انټرنېټ آرشیف
https://archive.org/details/introductiontost00hudsrich،
د لاسرسي نېټه: ۱۶ جولای ۲۰۲۶.


محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ